# په بلوچستان کښې
# د صحافت لومړنۍ ستونځې او "استقلال"

**Istiqlal And Issues Of Journalism In Balochistan**

ډاکټر عثمان توبه وال[♣]
شوکت ترین[*]
ډاکټر کلیم الله بړیچ[♥]

**Abstract:**
As Balochistan was most neglected part of the subcontinent during the British period. Like political, educational, social and economical advancement, the journalistic activities were also allowed very late even the Indian press Act 1867 came into practice in 1937. In this article the writers highlighted the initial steps which were taken towards journalism. The writers also discussed the role of khan Abdul Samad Khan Achakzai and his vernacular weekly "Istiqlal" in the promotion of political struggle / movement for freedom. They also discussed the different aspects of the paper and commented on its role.

بلوچستان په ټول هندوستان کښې هغه وروسته پاته خطه وه چرې چې آئیني او قانوني اصلاحات (Reforms) د هندوستان د نورو صوبو او ریاستونو وروسته ورکړل شو او هغه هم ډېر لږ او لږ ډېره سیاسي او صحافتي ازادي هم د دغه سیمې د اولس په قسمت کښې ډېره وروسته راغله. په برصغیر پاك و هند کښې د باقاعده صحافت پیل د کال 1875ء وروسته وشو. د هغه وخت زیاتره ورځپاڼې په انګرېزي کښې خپرېدې د دغه ورځپاڼو د لوستونکو شمېر هم ډېر کم ؤ او د ورځپاڼو دپاره د باقاعده قوانینو اړتیا هم په لومړي ځل محسوسه کړل شوه ځکه په برصغیر پاك و هند کښې لومړنی صحافتي قوانین مارکوئس آف ولز په کال 1799ء کښې متعارف کړل وروسته بیا ورو ورو د ورځپاڼو په شمېر کښې هم زیاتوب وشو او د انګرېزي پرته د هندوستان په نورو ژبو کښې هم ورځپاڼې پیل شوې.

په کال 1812ء کښې لارډهسټنګز په دغه قوانینو کښې په بدلون کولو سره د ورځپاڼو قابو کول پیل کړل، په کال 1823ء کښې پرېس ارډیننس جاري کړل شو لېکن په کال 1935ء کښې د هغه وخت ګورنر جنرل چارلس سټکاف چې د یو خپلواك صحافت په حق کښې ؤ د یو پرېس ایکټ لاندې پر ورځپاڼو لګول شوي بندیزونه تر ډېره حده لرې کړل خو د دغه کار پای دا شو چې موصوف د خپلې

---

♣ Director, Pakistan Study Center, University of Balochistan, Quetta.
* Subject Specialist, Government Elementary College Loralai
♥ Assistant Professor Department of History UoB Quetta

عهدې څخه لرې کړل شو، تر دې وروسته د کال 1857ء د پرېس اېکټ چې د (Gagging Act) په نامه سره هم شهرت لرې په سوب ورځپاڼې او د چاپ نورې ذرائع تر کلك بنديز لاندې راغلې او د لائنسس د ورکولو د واك څخه واخلې بيا د ورځپاڼې تر خرڅلاو پورې ټول اختيارات د ګورنر جنرل لمن ته وروغورځول شو، د کال 1854ء د ازادي د جنګ د نورو پائيلو پرته يوه پايله دا شوه چې برصغير پاك و هند د ايسټ انډيا کمپنۍ د ولکې ووت او نېغ په نېغه د تاج برطانيه د عملداري لاندې راغلى"(1).

د دغه جنګ په نتيجه کښې که څۀ هم (Gogging Act) يو کال وروسته کالعدم وګرځول شو، لېکن په تباه حال قام کښې د سترو په داسې عالم کښې د يو داسې ورځپاڼې يا ورځپاڼو خپرول چې بشپړه معنا د قام استازيتوب وکړي ډېره ناشونې وه. په کال 1867ء کښې د پرېس اېکټ xxv نفاذ وشو، پر 21 مادو اړه لرونکي دغه اېکټ کښې د بېلا بېلو ډولونه ډنډونو (جرمانې) او پر ورځپاڼو د خپرونکي، چاپ کوونکي او واکمن د نومونو چاپ کول اړين وګڼل شو.

په برصغير پاك و هند کښې د حکومت او پرېس تر منځ اړيکې په لومړي ځل د کال 1935ء تر اېکټ وروسته مخ په سمبدو رواني شوې او د ذکر شوي اېکټ په نتيجه کښې يوې خوا ته په ټول برصغير کښې د ورځپاڼو د خپرولو دپاره شرائط نرم کړل شوو او بل لور ته د نوکي خپلواك صحافت دپاره هم زمينه برابره شوه، لېکن په بدبختي سره چې کله په نړۍ کښې د دويم نړيوال جنګ پيل شو نو په ځنګ کښې د هند د تحفظ قانون (Defence of India Rules) هم د ځان سره راووتى، حکومت په کال 1940ء د اکتوبر په مياشت کښې د دغه قانون لاندې دا حکم جاري کړ:

*"برطانوی ہندوستان میں کوئی پرنٹر، پبلشر یا ایڈیٹر ایسا مواد شائع نہیں کر سکتا جن کا مقصد براہ راست یا بالواسطہ طور پر جنگ کو کامیابی کے ساتھ انجام تک پہنچانے کی مخالفت کرتا ہوں، ایسی تقریر بھی نہیں کی جاسکتی جو براہ راست یا بالواسطہ طور پر متذکرہ بالا مقصد کی تکمیل کرتی ہو"(2).*

کله چې په کال 1942ء د اګست په مياشت کښې کانګريس په ټول هندوستان کښې "هندوستان پرېږدى" غورځنګ پيل کړ نو سرکار و ورځپاڼو ته حکم وکړ چې:

*"اس تحریک کے بارے میں کوئی ایسی خبر نہ چھاپی جائے جو مندرج ذیل ذرائع سے نہ آتی ہو:*

***سرکاری ذرائع:***

*ایسوسی ایٹڈ پریس آف انڈیا، یونائیٹڈ پریس آف انڈیا یا اورینٹ پریس آف انڈیا. اخبارات کا ایسا باقاعدہ ملازم، نامہ نگار، جس کا نام اپنے ضلع کے ڈسٹرکٹ مجسٹریٹ کے پاس رجسٹرڈ ہو چکا ہو"(3).*

په اردو ژبه کښې د صحافت پيل د جام جهان نما، په چاپ کولو سره وشو چې لومړۍ ګڼه يې د کال 1822ء د مارچ د مياشتې پر 27مه نېټه د کلکتې څخه وشوه، تر دې وروسته دهلي اخبار، کوه نور،

اخبار عام، اوده.، مخزن، پیسه، صداء هند، غوندې ورځپاڼې مخ ته راغلې. د کال 1900ء وروسته زمیندار، همدرد او وروسته احسان، په ډول ورځپاڼو ځان ته جوت ځای وموند.

په بلوچستان کښې هم د صحافت پیل په انګرېزي ژبه کښې وشو لېکن په دې ټوله سیمه کښې د پورته ذکر شوو قوانینو اطلاق نۀ ؤ لکه څنګه چې د دې سیمې اولس د آئینې او سیاسي حقوقو څخه بې برخې وو هم دغه ډول ازادي رائی هم د نېشت برابره وه، دلته د ورځپاڼې خپرول خو پرېږده د ورځپاڼې لوستل یو جرم ګڼل کېدی که کم یو نیم انګرېزي ورځپاڼه خپرېده هغه به هم تر سرکاري خبرونو پورې محدوده وه، د کال 1935ء تر تباهي راوړونکې زلزلې تر وخته په ټوله صوبه هم دغه حالت دوام درلود، ورځپاڼه "زمیندار" د دغه حالت انځورګري داسې کوي:

## حکومت بلوچستان کے تشدد کی انتہا

"پچھلے دنوں وزیر ہند نے بھی اپنی شہادت کے دوران میں سلیکٹ کمیٹی کے روبرو بلوچستان کو پسماندہ ہونے کا خطاب دے کر اصلاحات سے محروم رکھنے کی سفارش کی تھی، بلوچستان کے تمام صوبے میں کوئی اخبار نہیں ہے اس کمی کو محسوس کرکے کئی دردِ دل رکھنے والے اصحاب نے اجرائے اخبار کے لئے کوشش کی مگر اس کے جواب میں حکومت مطلق العنان حکام نے منظوری دی تو اس شرط پر کہ کوئی خبر یا آرٹیکل جو سیاسی، مذہبی اور فرقہ وارانہ نوعیت کا ہو شائع نہیں ہو سکے گا. جس کے بعد ایک اخبار نویس کے لئے کوئی چیز لکھنے کے قابل نہیں رہتی.

اس کے بعد گزشتہ اکتوبر میں خان عبدالصمد خان اچکزئی نے پولٹیکل ایجنٹ کو ایک ہفتہ وار اخبار بلوچستان کے اجراء کے لئے درخواست دی جو بلوچستان کی سیاسی، معاشرتی اور مذہبی اصلاح کے لئے کام کرتا مگر اس مہینے کے آخر میں انہیں صاف جواب دیا گیا کہ منظوری نہیں مل سکتی"(4).

د داسې سختو حالاتو په حقله ورځپاڼه "انقلاب" داسې لیکي:

## بلوچستان میں اجرائے اخبار کی ممانعت

ہمیں یہ سن کر بے حد تعجب ہوا کہ بلوچستان کے مشہور خادم قوم خان عبدالصمد خان اچکزئی نے جب پچھلے دنوں پولٹیکل ایجنٹ کوئٹہ سے ایک ہفتہ وار اخبار بلوچستان کے اجراء کے لئے اجازت طلب کی تو ان کو صاف جواب دیا گیا کہ وہ اخبار جاری نہیں کر سکتے بلکہ جب خان موصوف نے حکم امتناہی کی نقل کا مطالبہ کیا تو ان سے بھی انکار کیا گیا اور جب آپ نے اس سلسلے میں پولیٹیکل ایجنٹ سے ملاقات کی خواہش کی تو اس خواہش کو بھی نظر انداز کیا گیا حالانکہ چند ہی روز قبل صاحب بہادر نے خود تار دے کر خان موصوف سے ملاقات کی خواہش کی تھی"(5).

کله چې د خان شهید د اخباراتو د رااېستلو پر له پسې درخواستونه رد کړل شو نو د دې په ضد ښاغلي مسعود احمد او مولوي محمد شفیع داودي په کال 1933ء د دسمبر په میاشت په قانون ساز اسمبلۍ کښې په دې حقله سوال پورته کړ چې د کوټې، پښین پولټیکل ایجنټ د کال 1933ء د دسمبر د میاشتې پر 15مه نېټه داسې ځواب ورکړ:

"Yes he applied for permission to start an urdu paper for religious, political, social and educational uplift of Balochistan. From the previous record of this youth and judging from the extremely unbalanced and provocative articles, he has contributed to papers published in India, he was not considered a suitable person to edit a paper on this frontier."(6)

ژباړه (او دوی (خان شهید) د بلوچستان د تعلیمي، سیاسي او ټولنیز او مذهبي بهبود دپاره د یو اردو ورځپاڼې د رااېستلو اجازت وغوښت لېکن د دې ځوان د پخواني ریکارډ او ډېر زیات اشتعال خورنکو او غیر متوازن مضمونونو چې د هندوستان په بېلا بېلو ورځپاڼو کښې خوارهٔ شوي وو، دهٔ په نظر کښې نیولو سره دی په داسې سرحدي سیمه کښې د ورځپاڼې د یو مدیر په حېث یوه ذمه واره سړي په توګه تر نظره لاندې نهٔ شي نیول کېدی".

لکه څنګه چې خان عبدالصمد خان اڅکزی په دې ټوله پښتون سیمه کښې د سیاست د ډګر لومړی مخکښ ګڼل کیږي هم داسې دلته د یو باقاعده او زړور صحافت د پیل کولو اعزاز هم و دهٔ ته حاصل دی کله چې دوې خوا و دهٔ ته د ورځپاڼو د خورولو اجازت ور نهٔ کړل شو نو هغه ټول صحافتي قوانین چې د برصغیر پاك و هند په نورو سیمو کښې خو نافذ وو لېکن بلوچستان چې بې برخې ؤ هغه قوانین په بلوچستان کښې هم د نافذ کولو هڅې پیل کړې، تراوسه لا دی په بند کښې ؤ چې په بلوچستان کښې هم د کال 1867ء ایکټ نفاذ وشو، کله چې د کال 1936ء د مۍ د میاشتې په اوومهٔ نېټه د بنده را خوشې شو نو سمدستي یې د یو پرېس او اخبار د خورولو دپاره درخواست ورکړ پولټیکل ایجنټ کوئټه پښین د خپل یو پټ خط نمبر No. 1008/7/11/32/Books نېټه اووم جنوري کال 1937ء و اې.جي.جي (A.G.G) ته لیکي:

Application of Mr. Abdul Samad Khan Achakzai of Gulistane:

(1) to open a printing press at Quetta by the name of "Aziz Printing and Litho Press"

(2) and to edit , print and publish a vernacular paper by the name of "Jadid Balochistan" at Quetta.

The history of this man is well known. In 1933 he applied for permission to start a paper and to keep a press. This was refused by the political Agent, Quetta Pishin. Questions were raised in legislative Assembly with regard to this and replies were sent. his correspondence clearly shows and gives detailed reasons for refusal of permission to this applicant. Apart from this, this gentle man has the following conviction against him:

(1) On the 25th July 1930, was sentenced to two years rigorous imprisonment under Frontier Crimes Regulations and

(2) On the 6th April, was sentenced to three years rigorous imprisonment under section 40 of the FCR following a charge of sedition and in connection with the farely , free kidnapping affairs. He was released on furnishing a bond on 7th May 1936.

In these circumstances, I do not oppose his application.(7)

ژباړه: (د ګلستان د عبدالصمد خان اڅکزي له خوا درخواست دپاره چې!

(1) په کوئټه کښې د عزيز پرنټنګ پرېس او ليتهو پرېس تنصيب.

(2) کوئټه کښې د جديد بلوچستان په نامه د يوې ورځپاڼې اجراء.

د دغه سړي تاريخ ډېره مشهور دی کال 1933ء کښې د يو اخبار د اشاعت او پرېس د لګولو دپاره درخواست ورکړی ؤ چې د کوټې پښين د پولټيکل ايجنټ له خوا مسترد کړل شوی ؤ په دې لړ کښې په قانون ساز اسمبلۍ کښې سوالونه هم پورته کړل شوي وو چې هغه وخت يې جوابونه هم ورکړل شوي وو، د سوال او جواب دغه خط و کتابت د درخواست د مسترد کېدو پر وجوهاتو په تفصيل سره رڼا اچوي چې يوه برخه يې داسې ده:

1. خان عبدالصمد خان اڅکزي ته پر 25م جولائي کال 1930ء کښې د قانون جرائم سرحدي (F.C.R) لاندې دوه کاله د قيد سخت سزا ورکړل شوې وه.

2. شپږم اپرېل کال 1934ء کښې د قانون جرائم سرحدي (F.C.R) د مادې د درو کالو د سخت بند په سزا محکوم کړل شوی ؤ چې په کښې د اغواء مقدمات او معاملات هم شامل وو او پر ضمانت پر 7م مئ کال 1936ء خوشې کړل شوی ؤ خو بيا هم په داسې حالاتو کښې زۀ د دۀ درخواست مخالفت نۀ کوم.

پر جون 1936ء کښې يو وار بيا د پرېس او اخبار د اجراء دپاره درخواست ورکړچې تقريباً اووۀ مياشتې وروسته پر 20م جنوري 1937ء منظور کړل شو، د منظورې په اړه کښې اې.جي.جي (A.G.G) و پولټيکل ايجنټ کوئټه پښين ته داسې لارښونه کوي:

No initial security should be taken from Abdul Samad Khan Achakzai to publish his vernacular news paper.

If there is subsequently any ground for objection, action can be taken under India press act (emergency powers) 1933.(8)

ژباړه: (په ابتدائي ډول د خان عبدالصمد خان اڅکزي څخه هيڅ ډول زر ضمانت وا نۀ خستل شي البته که څۀ د اعتراض خبره مخ ته راشي نو بيا دي د انډين پرېس ايکټ 1931ء د ايمرجنسي اختياراتو لاندې کاروائي وکړل شي.

د پرېس نوم خان شهيد د خپل ګران ملګري نواب يوسف عزيز مګسي په نامه عزيز اليکټرك پرېس کښېښود، هغه پر يوه بشپړه پرېس اندازاً لس زره خرڅه راتله چې زياتره د خپل ذاتي جائيداد د

ګروي په توګه په ایښوولو سره ادا کړه او دوه زره کالداريٍ د هغه وخت د قلات خان میر احمد یار خان ورکړې. په جنوري کال 1938ء کښې په پرنس روډ کوټه کښې پرېس ولګول شو هغه په کوټه کښې د پرېس د چلولو پوه کسان هم نهٔ وو چې د لاهور څخه به داسې کسان را وغوښتل شول لېکن هغو ته به کوټې واره و نهٔ خوړه او ډېر ژر به وتښتېدل.

د اووهٔ ورځني استقلال لومړی ګڼه د کال 1938ء د نومبر د میاشتې پر شلمه نېټه خپره شوه عبدالقدوس صهبائي يې لومړی مدیر ؤ ورځپاڼه په اردو ژبه وه لېکن د پښتو برخه يې هم درلوده، اداریه به تل خان شهید په خپله لیکله او سپرلیډ به هم د بلوچستان په حالاتو په اړوند ؤ، خان شهید په لومړي وار پر هغو ټولو ستونځو رڼا اچولې ده چې د یو اخبار د پیل کېدو څخه بیا د یو مدید د خذماتو ترلاسه کولو پورې ورپېښې وو. خان شهید لیکي:

"The delay in the publication of the paper was beyond his control. Deeds not words, he added, well govern the policy of Anjuman-I- Watan. The paper will resist against oppression and put forward every form of resistance. The "Zulm"of government , sardars, rulers of states and individuals will be strongly opposed and grievances, of the poor will be given wide publicity. Any constructive programme at political, cultural or economic uplift of the people of Balochistan will be strongly supported. Similarly, the claim for political advancement for Balochistan and independence for India will be vigorously pressed by the paper"(9)

ژباړه: «د اخبار په خپرېدو کښې ځنډ زما په وس کښې نهٔ ؤ ځکه عملي کارونه یو ازې په خبرو نهٔ کیږي اخبار به د انجمن وطن د پالیسیانو ښکارندوی وي او محکومي په ضد به ږغ پورته کوي اخبار به د اولس په ضد د کېدونکي هر عمل په ضد ږغ پورته کوي او د خوارانو و سترو ته ځای ورکول کیږي، د حکومت، سردارانو، انفرادي وګړو حتیٰ د هر ډول ظلم په ضد خپرونې کوي او دا چې د بلوچستان د اولس په ګټه و هر ډول تعمیري، سیاسي، اقتصادي او د کلتوري پروګرام مرسته کیږي په خاصه توګه د بلوچستان د اولس او د ټول هند پر خپلواکي به زور اچول کیږي".

## ادارئې:

اداریه د هرې ورځپاڼې یا مجلې د تګلارې ښکارندوی وي، د استقلال زیاتره ادارې یا سرمقالې خان شهید په خپله لیکلې په هغه اداریو کښې نړیوال حالات، ځایي حالات، د هندوستان سیاسي صورتحال او کله کله د کوټې د ښار ستونځې په نظر کښې نیول کېدې.

د کال 1945ء د فروري د میاشتې پر پنځهٔ ویشتمه ګڼه کښې:

"*پچھلی کار گزاریوں اور آئندہ ارادوں کا اظہار*" تر سرلیك لاندې د اې. جي. جي پر تقریر تبصره ده او لیکي:

*"حکومت بلوچستان برطانوی گورنمنٹ کا ایک حصہ ہے اور برطانوی گورنمنٹ داعی ہے کہ اس کی بنیادیں جمہوریت پر قائم ہیں اور جمہوریت کی نشرو اشاعت اس کی ترکیبی اولٰی کا فطری تقاضا ہے اس لئے ہم ایک طرح سے موجودہ تقریر کو جانچنا چاہتے ہیں ایک اس پہلو سے کہ اس جمہوری ضمیمہ نے کیا کہا انتظامی کارگزاریاں کی ہیں اور کرنا چاہتاہے دوسرا اس جمہوری مشن کے لئے کیا کیا گیاہے اور کیا کیا مد نظر آج اول الذکر پر بحث مطلوب ہے"(10).*

22 فروري 1942ء په ګڼه کښې سرمقاله ليکونکي د دويم نړيوال جنګ پر وجوهاتو او پايلو باندې رڼا اچوي او د دې جنګ پر هندوستان د اثراتو هم جاج اخلي"(11).

هم دغسې 27مئ 1941ء په ګڼه کښې په صوبه کښې د اصلاحاتو Reforns په لړ کښې "بلوچستان تحقيقاتی کمېټی" تر عنوان لاندې په برصغير پاك و هند کښې Reforms د لړۍ د بيانولو وروسته د بلوچستان ستونځې بيانوي او پر دې خبره زور اچوي که د بلوچستان اولس ته هم هغه حقوق ورکول په کار دي د هندوستان د نورو صوبو او اولسونو ته حاصل وي"(12).

## نړيوال خبرونه:

په استقلال کښې به نړيوال خبرونو ته هم ځای ورکول کېدی په خصوصي ډول د دويم نړيوال جنګ سره تړلي خبرونو خو به ځانګړی ځای موندی ورسره ورسره په ځنو ګڼو کښې پر دې خبرونو لنډې تبصرې هم وې او ورباندې به د اخبار خپله رائې هم شامله وه.

## قامي خبرونه:

د نړيوال خبرونو تر څنګ په استقلال کښې و قامي خبرونو ته هم ځای ورکول کېدی په دغه قامي خبرونو کښې د ټولو هندوستان و سياسي، مذهبي، کلتوري خبرو ته ارزښت ورکول کېدی، په ځانګړې توګه هغه خبرونه چې اړه به يې د روان د خپلواکۍ د غورځنګ سره وه.

د استقلال په خبرونو کښې به تل د توازن خيال ساتل کېدی د کانګريس، جماعت علماء هند، خدائي خدمتګار، او انجمن وطن تر څنګ د مسلم لیګ د مشرانو و بيانونو او خبرونو ته هم ځای ورکول کېدی لکه دا چې:

*"30جولائی 1947ء کو بلوچستان مسلم سٹوڈنٹس فیڈریشن کا جلسہ مک موہن پاک میں ہوا، جس میں ہزاروں لوگوں نے شرکت کی، سردار عبدالرب نشتر نے تحریک پاکستان پر روشنی ڈالنے کے بعد بلوچستانی عوام کا ذکر کرتے ہوئے*

کہا کہ اگر یہاں کے لوگوں کو تعلیم دی جائے تو یقین واثق ہے کہ یہاں کے لوگ دنیا کے بہترین دماغ ثابت ہو سکتے ہیں"(13).

## ځائي خبرونه:

په استقلال کښې تر ټولو زيات ارزښت و ځايي خبرونو ته ورکول کېدی په دغو خبرونو کښې د خلقو د ژوند حالات، د سرکاري افسرانو زياتوبونه، امن و امان، تعليمي ستونځې، سياسي او ټولنيز وروسته پاته ورځ او داسې نور موضوعات به شامل وو، په داسې خبرونو باندې د تبصرو تر څنګ د اولس سره د يووالي څرګندونه هم کېده.

## تبصرې او مضامين:

استقلال به د خپلو لوستونکو په خدمت کښې پر روانو چارو بېلا بېل مضمونونه، تبصرې هم چاپولې، کله کله به دغه مضامين د هندوستان د نورو ورځپاڼو او مجلو څخه هم واخستل شو، په داسې په دغه مجلو او ورځپاڼو المدينه، بجنور، هريجن، لاهور، او هندوستان ټائمز، شامل وو.

"پشتو تعلیم کے فائدے" تر عنوان لاندې اخبار ليکي:

"ماہرین تعلیم کے نزدیک یہ مانی ہوئی بات ہے کہ تعلیم مادری زبان کے سوا کسی اور ذریعے سے ممکن نہیں. اس لئے ہم تمام ملک کو تعلیم دینا چاہیں گے تو ہم لازمی طور پر انہیں مادری زبان یا زبانوں کے ذریعے دینا ہو گا"(14).

## نظمونه:

په اووۀ ورځني استقلال کښې به د انګرېزانو په ضد او خپلواکي په حق کښې د ځائي شاعرانو سره سره د هندوستان د مشهورو شاعرانو نظمونه هم خپرېدل، په دغه شاعرانو کښې به څنو په مستعار نومونو سره شعرونه ليکل، په دغه شاعرانو کښې سيماب اکبر ابادي، خواجه فيض لدهيانوي، اطهر قاضی مبارکپوري، رفيق مجيد لاهوري او په ځائي شاعرانو کښې به ملك محمد صادق شاذ او داسې نور شامل وو.

## د پښتو برخه:

اووۀ ورځنی استقلال د پښتو دپاره هم ځای ځانګړی کړی ؤ، په پښتو دغه برخه به هم زياتره منظومه وه او ور په کښې به د خپلواکي شعرونه خپرېدل، فضل رحيم ساقي، غمګين او د خدائي خدمتګار غورځنګ سره تړلي شاعران به شامل وو.

د پورته ذکر شوو سرليکونو پرته د لوبو خبرونه، اشتهارات، او ځانګړې تبصرې هم د استقلال برخه وې.

پروفېسر سيمي نغمانه طاهر ليکي:

"14 ستمبر 1948ء کو اس کا مدیر عبد الصمد درانی پبلک سیفٹی ایکٹ کے تحت گرفتار ہوئے اس سے پہلے 14 مارچ 1948ء خان عبد الصمد خان اچکزئی گرفتار کئے جا چکے تھے، آخر کار اخبار 1954ء میں بند ہو گیا"(15).

عبدالصمد درانی خو یو کال وروسته خوشی کړل شو لېکن خان شهید تر 10 جنوري 1954ء پورې د پاکستان په بېلا بېلو بنديخانو کښې بند وساتل شو.

د نومبر د مياشتې د شلمې نېټې کال 1938ء څخه واخلې د کال 1954ء پورې استقلال د خپلواکي سوړ جنگ پر هر محاذ تود وساتی او د صحافيانو يو داسې جبه يې تياره کړه چې وروسته يې د صوبې په صحافت کښې نۀ هېرېدونکي خدمات ترسره کړل، په دغه صحافيانو کښې عبدالقدوس صهبائي، الله بخش سليم، محمد حسن نظامي، بابو عبدالکريم شورش، گل خان نصير، عبدالصمد درانی، محمد اعظم اڅکزی، شېر محمد غلزی او محمد يعقوب غلزی شامل وو.

د انگرېزانو په ضد د مبارزې باوجود استقلال، د خپلې متوازن پاليسۍ په سبب ډېر لږ د قانوني ستونځو سره مخامخ شو، خان شهيد وايي:

"پریس اور اخبار قانون کے زد میں بہت کم آئے، استقلال، اس کا پریس ہمیشہ انگریز حکومت کے خلاف رہا مگر کچھ تو انگریزي دور کی قانونی حکومت اور قوتِ برداشت کی وجہ سے اور کچھ ہماری احتیاط اور پختہ کاری کی وجہ سے ہم قانون کی زد میں بہت کم آئے صرف ایک دفعہ تین ہزار کی ضمانت ضبط ہونے کی نوبت آئی اور ایک مرتبہ ڈیفنس آف انڈیا رولز کے تحت قطعی بندش سے سابقہ پڑا یہ سعادت تمام کامن ویلتھ (Common Wealth) میں انگلستان کے ڈیلی ورک کے بعد صرف استقلال کو نصیب ہوئی"(16).

دلته دا هم ياد ساتل په کار دی چې خان شهيد پر 8م ستمبر 1939ء د استقلال سره سره د يوې بلې روزنامې بلوچستان د اجراء دپاره هم درخواست ورکړې ؤ، پولټيکل اېجنټ کوټې پښين پر دې اساس مخالفت کړی ؤ چې چونکې خان صاحب د مخه اووۀ ورځنۍ اخبار خپريږي ځکه بايد د بل اخبار اجازه ور نۀ کړل شي.

“Abdul Samad Khan already publishes a weekly paper under the name of “Istiqlal”and I consider that if any further vernacular or other local papers are to be issued, there should be a fair distribution among editors, and that all paper should not be concentrated in one hand.” (17)

البته اې جي جي (Agent to inoverner ineneal) د کوټې پښين د پولټيکل اېجنټ رائې په مسترد کولو سره هدايات ورکړل چې:

“The applicant may be informed , that if he is still desirous of publishing his proposed “daily”, he

should furnish a declaration in the prescribed form under rules 5 of Act XXV 1867." (18)

لېکن وروسته بيا دا معلومه نۀ شوه چې خان شهيد ولې ډيکلرېشن جمع نۀ کړ شايد د وخت د کمبوت سياسي مصروفياتو يا مالي ستونځو له کبله يې داسې کړي وي.

***

# حوالي

(1) حجازی، مسکین علی، ڈاکٹر، پنجاب میں اردو صحافت کی تاریخ، سنگ میل پبلی کیشنز لاہور، 1997ء ص156.

(2) ایضاً، ص323.

(3) خورشید، عبد السلام، صحافت پاکستان وہند میں، مکتبہ کاروان کچہری روڈ لاہور، (س، ن) ص267.

(4) کوثر، انعام الحق، ڈاکٹر، بلوچستان میں اردو، مرکزی اردو بورڈ لاہور، نومبر 1967ء، ص33، 34.

(5) مشموله ورځپانه انقلاب، لاهور، 7 دسمبر 1933ء.

6. Luni, Abdul Aziz, British Balochistan, Fazlee Sons, Karachi, May,2003, pg. 312.

7. Basta No. 108-s, No-1, File No: Nil, 1934. C.0819(QTA)record of the commission office, Quetta, provincial Archives of Balochistan, Quetta. Pg.44-46

8. Ibid, pg.47

9. Tareen, Shaukat, “The Anjuman-I-Watan, Balochistan”, secret police abstracts, asbawoon, research center. Quetta. 2004, pg. 20

(10) اداريه، هفته وار استقلال کوټه، 25 فروري 1945ء.

(11) هفته وار استقلال، کوټه، 22 فروري 1942ء.

(12) ايضاً، 27 اپريل، 1941ء.

(13) ايضاً، 27 اپريل، 1941ء.

(14) نغمانہ طاہر، سیمی، ڈاکٹر، بلوچستان میں ابلاغ عامہ، مقتدرہ قومی زبان پاکستان، 2006ء، ص232.

(15) هفته وار، استقلال، کوټه، 5 جولائي 1942ء.

(16) نغمانہ طاہر، سیمی، ڈاکٹر، بلوچستان میں ابلاغ عامہ، ص230